مروري

آزاده لاسرسی

# په اسلامي ټولنه کې سود او د هغه زیانونه څېړل

نوماند پوهنیار ضیاء الحق فاروق[۱]، پوهنیار حشمت الله راشد[۱]، نوماند پوهنیار شفیع الله سعیدي[۱]
۱. فقه او قانون دیپارټمنت، شرعیاتو پوهنځی، وردګ پوهنتون، وردګ، افغانستان
*د مسئول لیکوال برېښنالیک: Habibyzia57@gmail.com، د اړیکې شمېره: ۹۳۷۸۰۶۶۸۰۳۰+

## لنډیز

دا څېړنه د اسلامي شریعت له لیدلوري د سود د دیني، اقتصادي او ټولنیزو زیانونو د تحلیل په موخه ترسره شوې ده. څېړنه د کیفي څېړنیزې تګلارې پر بنسټ ولاړه ده او د معلوماتو د راټولولو لپاره د متني تحلیل میتود کارول شوی، چې په کې د قرآن کریم آیتونه، نبوي احادیث او اړوند فقهي او اقتصادي علمي سرچینې تر څېړنې لاندې نیول شوي دي. د معلوماتو تحلیل د موضوعي تحلیل له لارې ترسره شوی دی. د څېړنې موندنې ښیي چې په اسلامي شریعت کې سود هغه زیاتوالي ته وایي چې په مالي مبادله کې له عوض پرته د متعاقدینو د یو تن لپاره شرط وګرځول شي. او همدارنګه په اسلامي شریعت کې د سود معامله له ډېرو سختو حرامو څخه شمېرل کېږي، او د سود د اخستونکي لپاره په قران کریم او نبوي احادیثو سختې سزاګانې ( وعیدونه ) راغلي دي، د سود اخیستل او ورکول دواړه ډوله منع دي؛ ځکه چې دا د ټولنیز عدالت ، ورورولۍ او د اقتصادي توازن خلاف عمل دی، همدارنګه، پایلې څرګندوي چې سود د شتمنو او بېوزلو تر منځ واټن زیاتوي او د اقتصاد په برخه کې انفلاسیون (د قیمت لوړوالی) ته لار هواروي، سود نه یوازې دیني زیانونه لري بلکې اقتصادي او ټولنیز زیانونو د رامنځته کېدلو سبب کېږي لکه فقر، بېوزلي او د انسانانو تر منځ بې باوري، حسد، دښمني، اقتصادي بې ثباتي او اخلاقي زوال. څېړنه څرګندوي چې اسلامي شریعت د سود پر ځای د حلالو اقتصادي معاملو لکه تجارت، مضاربت او شراکت لارښوونه کوي، څو یو عادلانه، متوازن او باثباته اقتصادي نظام رامنځته شي. په پایله کې، د سود پرېښودل د فردي او ټولنیز نجات سبب ګرځي او د سالم اقتصادي نظام د ټینګښت لپاره بنسټیز اهمیت لري.

**کلیدي کلمې**: سود، سود علت، ربا الفضل، ربا النسیئه.

**د مقالې تاریخچه:**
د مقالې ترلاسه کولو نېټه: ۱۴۰۴/۱۲/۴
د مقالې منلو نېټه: ۱۴۰۴/۱۲/۲۷
د مقالې خپرولو نېټه: ۱۴۰۵/۲/۳۰

**ددې مقالې استناد:**
فاروق، ضیاء. (۱۴۰۵). په اسلامي ټولنه کې سود او دهغه زیانونه. وردیکا علمي څېړنېزه د ټولنیزو علومو ژورنال، ۱ (۱):۱۰۶-۸۹

دغه ژورنال د وردګ پوهنتون په چوکاټ کې د لوړو زدکړو وزارت د رسمي جواز پر اساس فعالیت کوي.

CC BY
وردګ پوهنتون علمي څېړنیز نشرات (۱۴۰۵)

زموږ سره اړیکی: ۹۴۷۴۵۶۰۶۳۱۷+
**ایمیل**: rjd@wu.edu.af
**آدرس**: سیدآباد ولسوالی، ټوپ دښته میدان وردګ ولایت-افغانستان

**WNJS** فاروق، ضیاء.(۱۴۰۵). وردیکا د ټولنیزو علومو علمي څېړنیز ژورنال، ۱(۱):۸۹-۱۰۶

مروري

آزاده لاسرسی

# بحثُ الرِّبا وأضراره في المجتمع الإسلامي

المدرّس المساعد ضياء الحق فاروق[١]، المدرّس حشمت الله راشد[١]، المدرّس المساعد شفيع الله سعيدي[١]

١. قسم الفقه والقانون، كلية الشريعة، جامعة وردك، وردك، أفغانستان

*Corresponding author Email: Habibyzia57@gmail.com, Tel: +93780668030

## المستخّلص

تهدف هذه الدراسة إلى تحليل الأضرار الدينية والاقتصادية والاجتماعية للربا من منظور الشريعة الإسلامية. اعتمدت الدراسة المنهج النوعي، حيث تم استخدام أسلوب التحليل النصي لجمع البيانات، من خلال دراسة آيات القرآن الكريم، والأحاديث النبوية، والمصادر الفقهية والاقتصادية ذات الصلة. أما تحليل البيانات فقد تم باستخدام منهج التحليل الموضوعي. تبيّن نتائج الدراسة أنّ الربا في الشريعة الإسلامية : هو زيادة مخصوصة لأحد المتعاقدين خالية عما يقابلها من العوض. اوهو فضل مال بلا عوض في معاوضة مال بمال. كما تُظهر النتائج أن التعامل بالربا يُعدّ من كبائر المحرّمات، وأن القرآن الكريم والسنة النبوية قد ورد فيهما الوعيد الشديد لآكل الربا ومُوكِله، وأن أخذ الربا وإعطاءه محرّمان معاً؛ لما في ذلك من مخالفة لمبادئ العدالة الاجتماعية، والأخوّة، والتوازن الاقتصادي. كما توضح النتائج أنّ الربا يزيد الفجوة بين الأغنياء والفقراء، ويؤدي إلى التضخم (ارتفاع الأسعار)، ويسبب اضطرابات اقتصادية واسعة. والربا لا تقتصر أضراره على الجانب الديني، بل تشمل أضراراً اقتصادية واجتماعية، مثل الفقر، والبطالة، وانعدام الثقة بين أفراد المجتمع، والحسد، والعداوة، وعدم الاستقرار الاقتصادي، والانحطاط الأخلاقي. وتؤكد الدراسة أنّ الشريعة الإسلامية تدعو إلى استبدال الربا بالمعاملات الاقتصادية المشروعة، مثل التجارة، والمضاربة، والشراكة؛ بهدف تحقيق نظام اقتصادي عادل، متوازن، ومستقر. وتخلص الدراسة إلى أنّ ترك الربا سبب في النجاة الفردية والاجتماعية، وأساس مهم لبناء اقتصاد سليم ومستقر.

الكلمات المفتاحية: الربا، علة الربا، ربا الفضل، ربا النسيئة

تاريخ المقالة:
تم الاستلام: *2026/02/22*
تم القبول: *2026/03/18*
النشر الإلكتروني الأول: *2026/05/20*
الاستشهاد:
فاروق، ضياء *.(2026)*.، بحثُ الرِّبا وأضراره في المجتمع الإسلامي. مجلة واردیکا للعلوم الاجتماعية، *2026؛ 1(1): 89-106*
البريد الإلكتروني: ***rjd@wu.edu.af***

هذه مقالة ذات وصول مفتوح منشورة بموجب ترخيص التعليم العالي.

CC BY

**Copyright**:© 2026 Published by Wardak Universty.

## سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

ان الحمد لله نحمده و نستعینه و نستهدیه، من یهده الله فلا مضل له، ومن یضلل فلن تجد له ولیا مرشدا والصلاة و السلام علی من لا نبی بعده و علی آله و صحبه اجمعین وبعد:

الله تعالی په دنیا کې انسانان د ټولنیز او نه بېلیدونکي مخلوق په بڼه پیدا کړي دي؛ نو د ټولنې د نظم او سمون لپاره الله تعالی رسولان او کتابونه را استول دي، چې انسانانو ته لار ښودونکي او د هغوی د نیکمرغی سبب دی. هر هغه شی یې منع کړي یا یې ناخوښ ګڼلي چې د ټولنې د وروسته پاتې والي او ظلم سبب ګرځي ؛نو له د جملې څخه یو هم سود (ربا) ده چې الله تعالی خپل په مبارک کتاب کې په قطعي ډول حرام ګرځولېده ځکه چې سود د ژوند ټولو برخو ته زیانونه رسوي لکه د انسان روحاني، اخلاقي ، ټولنیز او اقتصادي برخې او دغه سود په نورو شریعتونوکې هم ناروا ګڼل شوی وو ؛ خو د وخت په تیریدو سره د عمل جنبه ضعیفه حتی سود تحریف شو، خو د اسلامي شریعت په راتک سره سود بیا ځلې منع شو او د سود د وضاحت لپاره فقهاؤ زیات اصول او قواعد رامنځته کړل تر څو د سود څخه د اجتناب او پرهیز ذریعه شي. نو دا چې په عربي ژبه کې سود او دهغه د قواعدو او اصولو پېژندل د هر چا لپاره یو سخت او مشکل کار دی، نو دغه موضوع او د هغه زیانونه باید په خپله ژبه (پښتو) باندې ښه واضح شي تر څو د عمل مصدر وګرځي، او زموږ لپاره د الله تعالی د رضا سبب شي.

### دخیړنې ستونزه

سود یوه داسې کبیره ګناه ده چې پیژندل او معلومول یې د هر مسلمان لپاره ډیر سخت ښکاري؛ ځکه چې سود پېژندل موقوف په علت دی او د سود د زیانونو څخه ټولنه هغه وخت په امان کیږي چې سود او دهغه اړوند قباحت و پیژني او همدارنګه په پښتو ژبه کې د سود لیکنې کمې دي نو له همدې امله په پښتو باندې یوه علمي مقاله د سود په مورد ولیکل شي، تر څو د ټولنې د سمون او پرمختک سبب شي.

### د څېړنې موخې

د اسلامي شریعت له لیدلوري د سود مفهوم او ماهیت پېژندل.

د فقهاوو له نظره د سود اصلي علتونه او فلسفه روښانه کول.

د سود اقتصادي، ټولنیز او اخلاقي زیانونه مشخصول او د ټولنې د خبرتیا لپاره وړاندې کول.

**د څېړنې پوښتنې**

سود په اسلامي شریعت کې څه مفهوم لري؟

د فقهاوو له نظره د سود اصلي علتونه او فلسفه څه دي؟

سود په ټولنه باندې کوم اقتصادي، ټولنیز او اخلاقي زیانونه لري؟

**د څېړنې اهمیت**

دغه څېړنه د سود او د هغه د علت او زیانونو په پېژندلو کې له ځانګړي اهمیت څخه برخمنه ده،؛ځکه چې سود یوه داسې ناوړه پدیده ده، چې په هغه سره الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم ناراضه کیږي. او په اسلامي شریعت کې د سود په نه اخستلو باندې زیات ټینګار شوی؛ ځکه چې دا د ټولنې د بې عدالتی ، ظلم، ناحقه مال اخیستلو، تنبلی او دښمنی ته لاره هواروي؛ چې دا د یوې ټولنې د تباهی، وروسته پاتې والي او انفلاسیون لامل کیږي.

**تېرو اثارو ته کتنه**

سود یوه داسې موضوع ده چې په اړه یې زیات شمیر ایاتونه نازل شوي دي لکه الله تعالی په خپل کتاب کې فرمایي (و احل الله البیع و حرم الربا) [سورة البقره ایت: ۲۷۵] ژباړه: حال دا چې حلال کړی دی الله تعالی تجارت او حرام کړی یې دی سود. او همدارنکه د نبي کریم ﷺ څخه زیات شمیر احادیث مبارکه روایت شوي دي لکه حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چې: «لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم آکل الربا و موکله و شاهده و کاتبه»[1]. ژباړه: رسول الله ﷺ په سود خوړونکي، سود ورکوونکي، په سودي معامله کې ګواه (شاهدي ورکونکي) او د سودي معاملې په لیکونکي باندې لعنت ویلی دی، او همدارنکه د فقهاؤ او علماء کرامو رحمهم الله څخه د سود په مورد زیات اقوال او کتابونو بیان او لیکل شوي دي، لکه : د امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله په نېزد په شپږو شیانو کې لکه طلا، سپین زر، غنم، اوربشې، خورما(کجورې) او مالګه کې د سود دوه علتونه دي، چې هغه جنس او قدر ( تول یا پیمانه) ښودل شوی دی. له قدر ( تول یا پیمانه) څخه مقصد دا دی چې د یوې پیمانې( کیل) یا مقدار په واسطه باندې وزن کیږي. لهذا په نقدینو (طلا او سپینو زرو )کې علت اندازه

[1] سجستانی، سلیمان بن الاشعث ابی داود، القاهرة : دارالحدیث، ج۲ ، ص ۴۷۳ باب في آکل الربوا و موکله ،

او د جنس یووالی دی، لکه : طلا په طلا باندې او په پاتې څلورو شیانو کې لکه: غنم، اوربشې، خورما اومالګه کې د سود علت پیمانه او د جنس یووالی دی .

او د امام مالک رحمه الله په نېزد د سود علت قوت او ادخار مع الجنس دی.

او د امام شافعي رحمه الله په نېز د سود علت په خوراکي شیانو طعمیت( غذا) او په نقودو (اثمانو) کې ثمنیت (ارزښت) دی، او د دغه شیانو لپاره جنسیت شرط بولي[۲] او همدارنګه د فقه حنفي په معتمدو کتابونو کې د باب الربا په عنوان باندې یو مستقل باب لیکل شوي دي خو دا چې په پښتوژبه کې دغه ډول لیکنې کمې یا یوازې د سود تر پېژندنې پورې محدودې دي، نو پورتنیو اقوالو او لیکنو د اصولو په رڼا کې سود او د هغه زیانونو باندې یوه متفاوته څېړنه ده ؛ ترڅو پدې برخه کې علمي تشې ته ځواب ویوونکي شي.

**د څېړنې کړنلاره**

دغه څېړنه هدف ته د کتو له مخې توضیحي لیکنه ده، چې هڅه کوي د سود او د هغه اړوند مسائل او زیانونو په اړه د بیلا بېلو کتابونو څخه په لومړی توکه راټول شي، او د کړنلارې له مخې کیفي کړنلاره غوره شوی ده. د معلوماتو د راټولو لپاره د مختلفو کتابونو او انټرنېټي، علمي منابعو څخه استفاده شوې ده، او همدارنګه د معلوماتو د رااخستلو سرچینې په لومړني توګه قران کریم، صحیح احادیثو او د فقهي کتابونه دي.او په ثانوي سرچینو کې د اسلامي فقهي معاصرې څېړنې او د سود اړوند علمي مقالات، او مستند راپورونه او داسې نور دي.

**سود پېژندنه**

سود د لغوي پلوه د زیاتوب، اضافه توب، ودې، نما او پړسوب په معنی دی، لکه څنګه چې د الله تعالی فرمایلیدی: وتَرَى الأَرْضَ هامِدَةً فإِذآ أَنزلْنَاَ علَيَهاَ المآء اهتزَّ تْ وربَتَ و انبتت من كل زوج بهيج [ سورة الحج –الاية ٥]

ژباړه: او وینې به ته ځمکه وچه شاړه نو هر کله چه نازلې کړو مونږ په دغې (وچې مړې شاړې ځمکې د آسمان له خوا ) اوبه نو وخوځیږي او ډډه شي او زرغونه کړی له هر قسم نباتاتو څخه ښائسته تاند، تنکی تیغ (د وښو په شنه کیدلو سره ) [۳]. په ذکر شوي ایت شریف کې د (

[۲] فتح الهدايه پښتو شرح د هدایه، کندهار: ، ج ٦، ص ٤٨١.

[۳] دیوبندی، شیخ الهند محمود الحسن دیوبندی،و شبیر احمد عثماني، تفسیر کابلی دري، کابل: جدید مکتبة رشیدیه، سورة الحج، ایت ۵.

ربت) کلمه د انتفخت، ازدادت او ارتفعت په معنی سره راځي، چې په پښتو کې د زیاتوب، اضافه توب، ودې، نما او پړسوب سره ژباړل کیږي. او په شریعت کې سود هغه زیاتوالي ته وایي چې په مالي مبادله کې له عوض پرته د متعاقدینو د یو تن لپاره شرط وګرځول شي[٤]. یا سود هغه زیاتوالي ته وایي چې د عوض څخه خالي وي او دغه زیاتوب په بیع کې د یوه عاقد لپاره شرط شوی وي[٥]. او همدارنګه فقهاؤ د سود لپاره بیلا بیل تعریفونه کړي دي لکه: الربا هو زيادة مخصوصة لأحد المتعاقدين خالية عما يقابلها من العوض. او الربا هو فضل مال بلا عوض في معاوضة مال بمال[٦]. ژباړه: په مالي راکړه ورکړه (عقود المعاوضات) کې داسې خاص مالي زیاتوالی چې په مقابل کې یې کوم عوض نه وي سود بلل کیږي. په پښتو کې ورته سود او په انګلیسي کې ورته Interest یا Usury ویل کیږي.

**د قران کریم په رڼا کې د سود حراموالی**

د سود په حرمت باندې د امت اجماع او اتفاق دی. د قرآن مجید لړ تر لږه څلور آیتونه د سود په حرمت باندې دلالت کوي چې په لاندې ډول دي:

اول: ( وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ رِبًا لِيَرْبُوَ فِي أَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُو عِنْدَ اللَّهِ وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ زَكَاةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ اللَّهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُونَ) [سُورَةَ الرُّ وم : 39 ]

ژباړه: او هغه څه چه ور کوئ یی تاسی له سود نه دپاره د دی چه زیات شی په مالونو د خلقو کښی پس نه زیاتیږی هغه په نزد د الله او هر هغه څه چه ور کوئ یی تاسې له زکات څخه چه اراده لری تاسې په هغه سره د ثواب (رضاء ) د الله پس دغه (محضا الله ورکوونکی ) هم دوی دي زیاتوونکی (دحسناتو خپلو)

دوهم : وأَخذْهِمِ الر بوٰا وقَدَ نُهوُا عنَهْ وأَكْلهِمِ أَمْوٰلَ النَّاسِ بِالْبٰطِلِ وأَعْتدَناَ لِلْكٰفِرِينَ منِهْمْ عذَاَباً أَليِماً [ سورَةُ النسِاَء : 161 ]

ژباړه: اخیستلو دوی (یهود) سود له خلقو نه حال دا چه په تحقیق منع کړی شوی وو دوی (په تورات کښې ) له دغه (سوده) او ( په سبب د) خوړلو د دوی مالونه د خلقو په ناحقه سره چه

---

[٤] هیئة کبار علماء الاسلام، الموسوعة الفقهیة، پشاور انور القران کتب خانه، ج۲۲، ص ۵۰.

[٥] مدني، مولوي حبیب الرحمن، فتح الهدایه پښتو شرح هدایه، کندهار: صداقت کتابخانه، ج ٦، ص ۴۷۸.

[٦] زحیلي، د. وَهْبَة, الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ, دار الفکر - سوريَّة – دمشق, ج ۵, ص ۳۵۲.

رشوت او نور ناروا شیان دی) او تیار کړی دی مونږ له پاره د کافرانو له دوی څخه عذاب ډېر دردناک.

دریم: (يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تَأْكُلُوا الرِّبَوٰٓا أَضْعَٰفًا مُّضَٰعَفَةً وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ )[سورةُ آل عِمرَان : 130]

ژباړه: اې مؤمنانو دا زیاته او څو برابره سود خوري پرېږدئ او د الله څخه ووېرېږئ، ترڅو چې بریالي شئ.

څلورم: الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا فَمَنْ جَاءَهُ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّهِ فَانْتَهَى فَلَهُ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُ إِلَى اللَّهِ وَمَنْ عَادَ فَأُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ (۲۷۵) يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ (۲۷٦) إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ (۲۷۷) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ (۲۷۸) فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ) [سورةُ البقَرَة ایة ۲۷۸]

ژباړه: کوم خلك چې سود خوري، د هغو حال به د هغه چا غوندي وي چې پېریانو نیولی وي او پر دې حال د هغو د اخته کېدو دلیل دا دی چې وايي: "تجارت خو هم لکه سود غوندي شی دی". - په داسي حال کښي چې الله تجارت روا او سود ناروا کړیدی. نو چا ته چې د هغه د رب له لوري دا نصیحت و رسېدی او په راتلونکي کي یې د سود له خوړولو څخه ډډه وکړه، نو څه چې یې مخکي خوړلي هغه خو یې خوړلي دي، د هغه معامله له خدای سره ده؛ او څوك چې له دې حکم څخه وروسته بیا هم همداسي کارکوي، هغوی دوږخیان دي، تل به په کښي اوسیږي. (۲۷۵) الله تعالی سود له منځه وړي او خیراتونو ته وده او ښېرازي ورکوي؛ او الله هیڅ ناشکره بد عمله انسان نه خوښوي.(۲۷٦) هو، کوم کسان چې ایمان راوړي او غوره عملونه وکړي او زکات ورکړي، د هغو ثواب بې شکه د هغو له رب سره دی او پر هغو څه وېره او کړاو نشته. (۲۷۷) اې مؤمنانو! که په رښتیا سره مو ایمان راوړی وي، نو له خدایه ووېرېږئ او ستاسي چې کوم سود پر خلکو پاته دی، هغه ورپرېږدئ؛(۲۷۸) خوکه تاسي داسي ونه کړل، نو خبر اوسئ چې د الله او د هغه د پیغمبر له خوا ستاسي پر خلاف د جګړې اعلان دی. که اوس هم توبه وباسئ )اوسود پرېږدئ؛ نو تاسي د خپلي پانګي اخیستلو حقدار یاست، مه تاسي تېری

کوئ او نه به پر تاسي تېری وشي.(۲۷۹) که ستاسي پوروړي تنګلاسي وي، نو تر لاس چلېدو پوري مهلت ورکړئ؛ او که خیرات وکړئ، نو دا ستاسي لپاره ډېره ښه دی که پوهېږئ!(۲۸۰) د هغي ورځي له رسوايۍ اوکړاؤ څخه ځان وژغورئ چې د الله لوري ته ورستنېږي؛ هلته به هر چا ته د هغه د کړي نېکۍ یا بدۍ پوره بشپړه بدله ورکړه شي او پر هیچا به هیڅکله تېری ظلم ونشي.(۲۸۱).

**د نبوي احادیثو په رڼا کې د سود حرمت**

اول: له حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چې: « لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم آكل الربا و موكله و شاهده و كاتبه»[۷].

ژباړه: رسول الله ﷺ په سود خور، سود ورکوونکي، په سودي معامله کې ګواه (شاهدي ورکونکي)او د سودي معاملې په لیکونکي باندې لعنت ویلی دی

دوهم: له حضرت ابو هريرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی:

( أربع حق على الله أن لا يدخلهم الجنة و لا يذيقهم نعيمها: مدمن الخمر و آكل الربا و آكل مال اليتيم بغير حق والعاق لوالديه) .[۸]

ژباړه: څلور داسې کسان دي چې الله تعالی به يې جنت ته داخل نکړي او نه به يې د جنت له نعمتونو څخه برخمن کړي: د شراب څښلو عادي، سود خور، بې حقه د یتیم د مال خوړونکی، او مور او پلار ته اذیت او تکلیف ورکوونکی ( نافرمان) .

دریم: په سنن ابن ماجه شریف کې له عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه را نقل شوي دي: ( ما أحد أكثر من الربا الا كان عاقبة أمره الى قلة[۹]). ژباړه: د سود له کبله را منځته کېدونکې بې برکتۍ ته په اشارې سره يې فرمایلي دي: که څه هم په ظاهر کې مال اضافه کېږي او زیات ښکاري خو په حقیقت کې د سود په پایله کې په مال کې کموالی رامنځته کېږي.

له یوه اړخه د سود حرمت او ممانعت دومره سخت دی او له بل اړخه حال دا دی چې د سود د قطعي حرمت اړوند آیت شریف د نبوت په اخېره زمانه کې را نازل شوی دی، له همدې کبله

[۷] سجستاني، سليمان بن الاشعث ابی داود، القاهرة : دارالحديث، ج ۲ ، ص ۴۷۳ باب في آكل الربوا و موكله ،

[۸] جلال الدين السيوطي، جامع الأحاديث، مكتبة الشامله، ۴/ ۱۹۹.

[۹] محمد بن يزيد أبو عبدالله القزويني، سنن ابن ماجه، دار الفكر – بيروت، ۲/ ۷۶۵.

صحابه کرامو ته د سود د انواعو، ډولونو او د سود اړوند فروعي احکامو په تفصیل سره معلوم نه شول لکه څنګه چې د ژوند په نورو برخو کې ورته معلوم وو او په هکله يې روايتونه را نقل کړي دي.

همدا علت وو چې صحابه کرامو به د سود په باب کې په دې اندازه احتياط کوه، چې د پوروړي (مقروض )هديه (ډالۍ) به يې نه قبلوله او د هغه له سپرلۍ څخه به يې د موقت وخت لپاره هم استفاده نه کوله. حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی: « إذا أقرض أحدكم أخاه قرضا فأهدى له أو حمله على دابته، فلا يقبلها ولا يركبها، إلا أن يكون جرى بينه وبينه قبل ذلك[10]».

ژباړه: ستاسو له منځ څخه که کوم ورور بل کس ته پور ورکړ، نو (پوروړي) همدې شخص ته يو شي ډالۍ کړي، نو نه د ورڅخه قبلوي او يا يې په سپرلۍ باندي سپور کړي، نو سپرلې دې نکوي مګر که چېرته له قرض ورکولو څخه مخکې هم ددوی تر منځ د ډالۍ دا سلسله وه بيا پروا نلري .

**د سود حرام کېدل**

په پورتني آيتونو کې لومړنی آيت د سورة الروم دی چې بالاتفاق په مکه مکرمه کې نازل شوی دی، دا آيت د تحريمي آيتونو له نوعيت څخه نه دی بلکه په عام فهم او ساده لفظونو کې يې يوازې دا واضح کړې ده چې سود مالد الله تعالی په وړاندې نه زياتېږي، په دې معنی چې په آخرت کې په هغه باندې هيڅ ثواب نشته. نامتو مفسر ابن کثير په خپل تفسير کې له حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه او ګڼ شمېر تابعينو لکه سعيد بن جبير، مجاهد، طاؤس، قتاده، ضحاک او ابراهيم نخعي)رحمهم الله عنهم څخه روايت کړی دی چې د سورة الروم په آيت کې د سود (ربا) له کلمې څخه مراد سود نه ده، بلکې د ربا د لفظ څخه مطلب دادی چې: يو کس ته په دې اميد هديه (ډالۍ) ورکول چې په بدل کې يې له هغه څخه بهتره هديه تر لاسه کړي. نو ددې آيت مبارک له مفهوم څخه دا جوته شوه چې دا عمل الله ته خوښ نه دی[11].

د سورة النساء آيت: دوهم آيت د سورة النساء آيت شريف دی چې پکې د يهوديانو د بدو عملونو په فهرست کې دا هم ذکر شو، چې يهوديانو به سود اخيستل، سره له دې چې له هغه

[10] القرطبي, محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري, الجامع لأحكام القرآن, دار الكتب المصرية –القاهرة, ج ۳, ص ۲۴۲.

[11] ابن کثير، الامام الحافظ ابی الفداء اسماعيل ابن کثير، تفسير ابن کثير،کندهار:المکتبة الحبيبة ، ج ۵، ص ۸۰.

څخه دوی منع کړای شوي وو، او سود وربانديې حرام شوی وو. له دې آیت څخه دا خبره واضحه شوه چې سود اخیستل د یهودیانو لپاره حرام او ممنوع وو، لیکن دوی(یهودیانو) په خپل عملي ژوند کې ددې حکمت عمیل ونکړ او سرغړونه یې وکړه، له دې څخه دا خبره جوته شوه چې سود د مسلمانانو لپاره د گناه یو عمل دی[۱۲].
د سورة آل عمران آیت: دریم آیت د سورة آل عمران دی، ددې آیت په تړاو ویل کېږي چې د هجرت په دوهم کال نازل شوی دی ځکه چې مخکیني او وروستني (سیاق او سباق)آیتونه یې د أحد غزا اړوند دي چې د هجرت په دریم کال دشوال په ( ۱۲ ) نیټه د چهارشنبې په ورځ رامنځته شوې وه، نو ځکه ویلای شو چې دا لومړنی آیت دی چې د هغه په واسطه مسلمانانو ته د سود د حرمت واضح دلیل را ښکاره شو. ځکه خو د صحیح البخاري نامتو شارح حافظ ابن حجر العسقلاني رحمه الله فرمایي چې د سود د ممانعت اعلان د غزوه أحد رامنځته کېدلو په شاوخوا زمانه کې وشو. بعضې مفسرینو او د حدیث شارحینو ددې علت چې ـ د سود د ممانعت حکم د أحد د غزوې په وخت کې وشو داسې بیان کړی دی چې: د مکې مکرمې حمله کوونکو مشرکینو خپل پوځ ته د سودي قرضو په ورکولو سره سرمایه او پیسې تهیه کړې وې، همدا راز هغوی په ښه اندازه اسلحه هم راټوله کړې وه .نو دا ممکنه وه چې د دوی په دې عمل سره مسلمانانو هم دې ته وهڅول شي چې په همدې طریقه باندې د سودي پورونو په اخیستلو سره د خپل پوځ لپاره اسلحه او امکانات برابر کړي. بناءً ددې لپاره چې مسلمانانو له ورته عمل څخه منع کړل شي ، په واضحه توگه سره د سود ممانعت کوونکی دا آیت نازل شو .
دا خبره چې د سود ممانعت حکم د أحد د غزوې په وخت کې راغی ـ ددې تایید په سنن أبي داوود کې د ابوهریره رضی الله عنه څخه په روایت شوې واقعې سره هم کېږي، هغه کیسه داسې وه چې عمرو بن أقیش په نوم داسې یوکس وو چې په سود باندې یې خلگو ته قرضونه ورکړي وو، هغه په زړه کې دا شوق او مینه درلوده چې اسلام قبول کړي خو په دې وجه متردد او شکمن وو چې هغه ته دا معلومه وه که چېرته اسلام قبول کړي نو هغه خپل د سود مبلغ( مفاد) بیرته نشي تر لاسه کولای، له همدې کبله یې د اسلام په قبلولو کې تاخیر وکړ، په همدې وخت کې د أحد جگړه رامنځته شوه، نوموړي دا تصمیم ونیول چې د دنیا د مادي گټې په وړاندې به

[۱۲] تفسیر ابن کثیر،ج۲، ص ۳۸۸.

د اسلام قبلول ونه ځنډوي، او فوراً يې د جګړې ساحې او د معرکې ميدان ته ورودانګل او مسلمانانو دکفارو په مقابل کې د ژوند تر اخېري سلګۍ پورې وجنګېدل تر څو چې په همدې معرکه کې د شهادت لوړ مقام ته ورسيد[۱۳].) (. له دې څخه دا معلومه شوه چې سود د أحد له غزوې څخه مخکې منع شوی وو او همدا ممانعت د عمرو بن أقيش په اسلام راوړلو کې د تردد سبب جوړ شوی وو.

د سورة البقرة آيتونه: د آيتونو ځلورمه مجموعه په سورة البقرة کې ذکر شوې ده چې په هغه کې د سود د حراموالي شدت په تفصيل سره بيان شوی دی، د دې آيتونو د نزول مخکتنه (پس منظر) داسې وه چې د مکې مکرمې له فتحې وروسته نبي کريم ﷺ ټول واجب الأداء سودي مفاد (ګټه) منسوخه اعلان کړې وه، ددې مطلب دا وو چې هيڅوک په ورکړل شوي قرض(پور) باندې د سود اخيستلو غوښتنه نشي کولای، له دې وروسته رسول اکرم ﷺ طائف ته مخه کړه چې طائف بيا فتحه نه شو، ليکن وروسته د طائف اوسېدونکو اسلام قبول کړ او د حضور ﷺ خدمت ته راغلل اوله نبي کريم ﷺ سره يې يوه معاهده وکړه ، د همدې تړون د مسودې يوه برخه داسې وه چې بنو ثقيف چې خلګوته کومې قرضې ورکړې دي، هغوی به په قرضونو باندې راغلی سود (ګټه) تر لاسه کوي او معاف به نه وي البته بنو ثقيف ته چې کومو خلګو پور ورکړی دی هغوی به په هماغه پور باندې راغلی سود نه اخلي او هغه به معاف وي. رسول الله ﷺ په ياد تړون د امضاء کولو په ځای په همدې مصوبه باندې يوازې يوه جمله وليکله او دوی ته يې ورولېږله. هغه جمله دا وه چې مسلمانانو چې له کوم حق څخه برخمن دي، بنو ثقيف هم هغه شان حق لري. بنو ثقيف په دې فکر کې وو چې رسول الله ﷺ د دوی معاهده قبوله کړې ده، له همدې کبله هغوی د عمرو بن المغيرة له زامنو څخه د خپل سودي مفاد غوښتنه وکړه ، ليکن بنو عمرو د دوی لخوا د سود دا غوښتنه ځکه رد کړه چې دا ممنوع ده، قضيه د مکې مکرمې د والي عتاب بن اسيد مخته راوړل شوه، د بنوثقيف دليل داسې وو چې د تړون له مخې دوی د سودي مفاد په معاف کولو مجبوره نه دي، عتاب بن اسيد دا قضيه د رسول اکرم ﷺ خدمت ته وړاندې کړه، په دې وخت کې لاندې آيتونه را نازل شول[۱۴]:

---

[۱۳] سجستانی، سليمان بن الاشعث ابی داود، القاهرة : دارالحديث، ج ۲ ، ص ۳۲۶, رقم الحديث الشريف: ۲۵۳۹.
[۱۴] تفسير ابن کثير،ج ۱، ص ۵۷۵.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ (۲۷۸) فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ) سورَةُ البقَرَةَ اية ۲۷۸. اې مؤمنانو! که په رښتیا سره مو ایمان راوړی وي، نو له خدایه و وېرېږئ او ستاسي چې کوم سود پر خلکو پاته دی، هغه ورپرېږدئ؛ (۲۷۸ )٬ خو که تاسي داسي و نه کړل، نو خبر اوسئ ، په لوی جنګ سره له طرفه د الله جل جلا له او د هغه د پیغمبر ﷺ. که اوس هم توبه وباسئ او سود پرېږدئ ، نو تاسي د خپلې پانګې اخیستلو حقدار یاست، مه تاسي تېری کوئ او نه به پر تاسي تېری وشي. په همدې موقع باندې د بنو ثقیف خلګو ځانونه د الله تعالی امر ته تسلیم کړل او ویې ویل: په مونږ کې دومره توان، طاقت اوهمت نشته چې د الله تعالی او د هغه له رسول سره جنګ ته آماده شو . کله چې د اسلام دائره په پراخېدو شوه او په جزیره عرب کې د عربو قبائلو په ډېر لوی تعداد په اسلام کې داخلېدل پیل کړل ،دا په داسې حال کې چې د سود دا عمل د دوی په منځ کې ډېر عام شوی وو او دا تصور کېدل چې په راتلونکې کې به دوی له یو بل سره د خپلو سودونو د غوښتنې په دعوی کې راګیر وي، له همدې کبله د حجة الوداع په ورځ د مسلمانانو په یوه لویه اجتماع کې یوځل بیا تکرارا د تاکید په ډول نه یوازې دا چې د سود د ممانعت او حرمت اعلان وکړي بلکه مخکني ټول سودي معاملات او راکړې ورکړې یې کالعدم وګرځولې. په همدې سیاق کې رسول اکرم ﷺ د خپل کاکا عباس بن عبد المطلب رضی الله تعالی عنه ته د سود ورکولوځخه معافي او خاتمه اعلان کړه. تر څو اورېدونکې په بشپړه توګه له دې حکم ځخه ځان خبر کړي او هیڅوک هم له یاد حکم ځخه د نا خبرتیا دعوه ونکړي[۱۵].

**د سود علتونه**

د سود علت څه دی او په کومو مالونو کې سود رامنځته کېږي؟ د سود د علت په تعین او تحدید کې د ائمه وو تر منځ اختلاف شتون لري. چې په لنډه توګه یې ذکر کوو:

د امام شافعي رحمه الله په نېز د سود علت په خوراکي شیانو طعم( غذا) او په نقودو (اثمانو) کې ثمنیت (ارزښت) دی، او د دغه شیانو لپاره جنسیت شرط بولي[۱۶]. د امام مالک رحمه الله په نېزد د

[۱۵] علاء الدين علي بن محمد بن إبراهيم البغدادي ،تفسير الخازن المسمى لباب التأويل في معاني التنزيل, دار الفكر –بيروت, ج ۱, ص ۳۰۱.

[۱۶] فتح الهدایه پښتو شرح د هدایه، کندهار: ، ج ٦، ص ٤٨١.

سود  علت قوت او ادخار مع الجنس دی. د امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله په نېزد په شپږو شیانو کې لکه  طلا، سپین زر، غنم، اوربشې، خورما(کجورې) او مالگه  کې دوه علتونه دي، چې هغه جنس او قدر ( تول او پیمانه) ښودل شوی دی. له قدر ( تول او پیمانه) څخه مقصد دا دی چې د یوې پیمانې( کیل) یا مقدار په واسطه باندې وزن کېږي. لهذا په نقدینو (طلا او سپینو زرو )کې علت اندازه او د جنس یووالی دی، لکه : طلا په طلا باندې او په پاتې څلورو شیانو کې لکه: غنم، اوربشې، خورما اومالگه کې د سود علت پیمانه او د جنس یووالی دی . بناءً دوه داسې شیان چې جنس یې هم یو (متحد) وي او په قدر کې هم سره یو (متحد)وي، د داسې شیانو د اخیستلو او خرڅولو په وخت کې باید دواړه په کیل یا وزن کې هم برابر (مساوي ) وي او له دواړو اړخونو(عاقدینو ) څخه یې په نغدي توگه اداینه (تقابض) هم اړین او ضروري دی [17]. سودي مالونه:  سودي مالونه په دوه ډوله دي: ۱: منصوصي سودی مالونه ۲: غیر منصوصي سودی مالونه. منصوصي سودی مالونه: له هغه اموالو څخه عبار ت دي چې په حدیث شریف کې یې ذکر راغلی وي چې هغه شپږ ډوله مال دی لکه:  طلا، سپین زر، غنم، اوربشې، خورما (کجورې) او مالگه.غیر منصوصي سودی مالونه: له هغه مالونو څخه عبارت دی چې فقهاء کرام له مبارکو احادیثو  څخه کوم علت استنباط کړی، نو د هغه علت چې په کومو مالونو کې وموندل شي هغه سودي مال شمېرل کېږي. د پورتنیو شپږو منصوصي سودي مالونو له جملې څخه په نقدینو (طلا او سپین زر) بکې تقابض ضروري دی، په دې معنی چې د عقد په مجلس کې باید متعاقدین له دواړو طرفو څخه په جنسونو باندې لاسي قبضه( Possession) تر لاسه کړي؛ ځکه نقود په تعین سره نه متعین کېږي بلکې د نقودو د تعین لپاره قبض ( اداینه) ضروري دی[18]. په دوهم ډول سودي مالونو لکه: غنم، اوربشې، خورما (کجورې) او مالگه کې لاسي قبض ( اداینه) ضروري نه ده، بلکې په تعین سره هم قبض حاصلېدلای شي او همدا تعین یې تقابض ( ادانیه) بلل کېږي. او دا تعین د اداینې په حکم کې دی[19] .

---

[17] الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ،ج ۵، ص ۳۸۵.

[18] فتح الهدایه پښتو شرح د هدایه، کندهار: ، ج ٦، ص ۵۰۲.

[19] الموسوعة الفقهية، ج۲۲ ، ص۵۵.

**د سود ډولونه**

د اصطلاحي معنی په نظر کې نیولو سره سود په دوه ډوله دی: د پور سود ( ربا النسیئة) اوزیاتوالي سود ( ربا الفضل). د پور سود ( ربا النسیئة) ته ربا القرآن، ربا الجاهلية او ربا القرض هم ویل کېږي، او د زیاتوالي سود ( ربا الفضل) په ربا الحدیث او ربا البیع باندې هم نومول کېږي. د پور سود ( ربا النسیئة) ته ربا القرآن ځکه ویل کېږي چې د قرآن کریم ګڼ شمېر آیتونو په مستقیم ډول دغه سودمنعه کړی دی، او ربا الجاهلية ځکه ورته ویل کېږي چې د جاهلیت په دور کې دا سود رواج وه، او د جاهلیت د زماني خلکو به هم دېته د ربا (سود) لفظ استعمالول. او ربا القرض له دې کبله ورته ویل کېږي چې د دې ډول ربا تړاو له قرض سره وو ځکه چې د نسیئة هم د پور معني ورکوي. ربا الفضل ته ربا الحدیث ځکه ویل کېږي چې دا ډول ربا یوازې د قرآن کریم له آیتونو څخه نه بلکې د نبي اکرم ﷺ له مبارکو احادیثو څخه معلومه شوې ده. او دې ډول ته ربا البیـــع ځکه ویل کېږي چې ددې بنسټ له بیع ( راکړې ورکړې ) څخه اخستل شوی دی؛ ځکه چې فضل د زیاتوالي په معنی دی[20]. د پور سود (ربا النسیئة ) دیته وایي، چې یو جنس شیان یو په بل، په نیته (اجل) وپلورل شي. یا د تول او پیمانې وړ شیان په مخالف جنس باندې په نیته باندې سره د زیادته وپلورل شي. د بېلکې په ډول دوې پیمانې غنم په دوو پیمانو غنمو په نیته( تر راتلوونکي میاشتې پورې) وپلورل شي، یا لس ګرامه سپین زر په شلو کرامو سپینو زرو په نیته وپلورل شي. الربا النسیئة هو القرض المشروط فیه ا لأجل و زیادة مال علی المستقرض[21]. ژباړه: هغه مشروط قرض چې په پوروړي (مستقرض) باندې زیات مال د نیتې په بدل کې شرط شوی وي دیته د پور سود (ربا النسیئة) وایی. په دې معنی چې په کومه معامله کې دا درې شرطونه وموندل شي هغه په پور سود (ربا النسیئة) کې داخلیږي، هغه درې شرطونه عبارت دي: ۱- قرض ۲- زیاتوالی ۳- دا زیاتوالی د عقد په پیل کې مشروط شوی وي . بناءً هغه زیاتوالی چې هغه د قرض په بدل کې نه وي، یا هیڅ زیاتوالی نه وي، یا زیاتوالی وي خو مخکې له مخکې شرط شوی نوي، په دې صورتونو کې بیا مالي

[20] الجوزی، جمال الدین عبد الرحمن بن علي بن محمد، زاد المسیر فی علم التفسیر، بیروت: دار الکتاب العربي، ج ۱، ص ۲۴۸.

[21] الحنفي، عبدالله بن محمود الموصلي، الاختیار لتعلیل المختار، ومع تحفة الاخبار علی الاختیار لتعلیل المختار، عمان: مرکز انور العلماء للدراسات، ج ۳، ص ۱۰۲.

زیاتوالي ته سود نه ویل کېږي بلکې دېته ښه اداینه یا قرض حسنة ویل کېږي چې دا یوښه عمل ګڼل کېږي او ورکوونکی یې مستحق د ثواب او اجر دی. د زیاتوالي سود ( ربالفضل) دیته ویل کیږي چې د تول (پیمانې) وړ مال په خپل جنس باندې په زیاتوالي سره وپلورل شي. د بیلګې په ډول دوه پیمانې غنم په څلورو پیمانو غنمو پلورل سود دی. الربا الفضل: هو فضل خال عن عوض بمعيار شرعي مشروط لاحد المتعاقدين فى االمعاوضة[22] ژباړه: د زیاتوالي سود هغه زیاتوب ته وایي چې د عوض څخه خالي وي او دغه زیاتوب په بیع کې د یوه عاقد لپاره شرط شوې وي. د بېلګې په ډول: د درې منه غنمو په مقابل کې څلور منه غنمه ورکول یا اخیستل په داسې حال کې چې متعاقدین عقد په مجلس کې په دواړو مالونو باندې قبضه تر لاسه کړي. د زیاتوالي سود ( ربالفضل) اساسي صورتونه په راتلونکې جدول کې مطالعه کولای شی.

**۱. جدول: په ورځنیو معاملاتو کې د سود ( ربالفضل) او د پور سود (ربا النسیئة) اساسي صورتونه:**

| شماره | صـــور ت | مثـــال | تفاضـــل | نسـيئة |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | قدر(پیمانه یا وزن) او جنس دواړه یو وي | غنم ـ غنم، طلا ـ طلا | حرا م | حرا م |
| ۲ | قدر(پیمانه یا وزن) یې یو وي مګر جنس یې سره مختلف وي | غنم ـ اوربشي | جائز | حرا م |
| ۳ | جنس یې یووي خو قدر(پیمانه یا وزن) ښخي موجود نه وي، یا قدر(پیمانه یا وزن) یې وي خو مختلف وي لکه عددي شیان | اوزه ـ اوز ه | جائز | حرا م |
| ۴ | جنس او قدر دواړه یې مختلف وي | کالي ـ غنم<br>پیسې ـ اوزه | جائز | جائز |

زیاتوالي سود ( ربالفضل) د حرمت او ممانعت په تړاو چې د نبي کریم ﷺ څخه زيات احادیث را نقل شوي دي چې د هغه څخه یو دا حدیث شریف دی:

رَوَاهُ عُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ ، وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ ، وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ ، وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ ، وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ ، وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ ، مِثْلاً بِمِثْلٍ سَوَاءً بِسَوَاءٍ ، يَدًا بِيَدٍ ، فَإِذَا اخْتَلَفَتْ هَذِهِ الأَصْنَافُ فَبِيعُوا كَيْفَ شِئْتُمْ إِذَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ (۲۳).

[22] الموسوعة الفقهية، ج۲۲ ، ص ۵۰.

[23] النيسابوري , مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري (المتوفى: ۲۶۱هـ), صحيح مسلم, دار إحياء التراث العربي - بيروت , رقم الحيث: ۱۵۸۷

ژباړه: حضرت عبادة بن صامت رضی الله عنه څخه روایت دي: رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي سره زر په سرو زرو (خرڅ کړئ) او سپین زر په سپینو زرو (خرڅ کړئ) غنم په غنمو باندې ( خرڅ کړی) او وربشې په وربشو باندې (خرڅ کړی) او مالګه په مالګه باندې ،خرڅ کړی) د یو د بل سره مساوي په مساوي، او لاس په لاس . کچیرې د دغه اصنافو جنس تغیر وکړو نو څه قسم چې مو خوښه وي خرڅ یې کړئ مګر لاس په لاس به وي. فقهاء کرام د پورتني حدیث په استنباط کې ویلي دي چې سود په دغه شپږو شیانو کې منحصر نه دی؛ بلکه دا شپږ شیان یوازې د نمونې په شکل ذکر شوي دي، او فقهاء کرام د پورتني شیانو په نظر کې نیولو سره د داسې علت معلومولو او پیدا کولو هڅه کړې ده، چې په هر ځای کې هغه علت وموندل شي؛ هلته به حرام سود رامنځته کیږي، چې د سود علت قدر(پیمانه یا وزن) او جنس دی .

**د سود زیانونه**

اسلام او ټول آسماني شریعتونو سود (ربا) حرام کرځولی دی؛ ځکه چې پدې کې زیات اخلاقي، جسماني ، ټولنیز او اقتصادي زیانونه نغښتي دي، چې دلته دغه زیانونه په لنډ ډول بیانیږي.

اول د سود اخلاقي او روحاني زیانونه: هر هغه څوک چې د سود په معامله کې لاس ولري؛ هغه به دغه مصیبتونو مبتلا ، لاس او ګریوان شي لکه : بخل، حرص، د زړه تنګوالی، او د زړه سختوالی، د مال په عبادت (بندګی) اخته شوي وي او داسې نور[۲٤].

دوهم د سود ټولنیز زیانونه: د سود لپاره ټولنیز زیانونه په لاندې ډول دي:

الف: سودخور د اړمنو او غریبو خلکو له مجبوری ناوړه ګټه اخلي؛ او د اړمنو خلکو د خوښی پرته هغوی ته زیانونه رسوي.

ب: د خلکو تر منځ حسد ا و دوښمني زیاتوي؛ ځکه پور اخیستونکی هیڅ وخت پدې راضي او قانع نوي، چې د هغه څخه زیات ناعادلانه قیمت او مال واخیستل شي .

ج: سود د اخلاقو، فضیلت، او تعاون او تقوی په لاره کې د ټولنې ترمنځ د مرستې روحیه له منځه وړي.

[۲٤] الربا اضراره و اثاره فی ضوء الکتاب و السنة، ص ۵۲.

دریم د سود اقتصادي زیانونه:
د لاندې دلایلو له مخې، سود د مال او عاید د لاسته راوړلو غیر سالمه لار ده، چې دا د سود په اقتصادي زیانونو کې شمېرل کیږي:
الف: هغه ګټه چې سودخور یې تر لاسه کوي، د کوم عمل یا تولیدي کار پایله نه وي، بلکې دغه ګټه د یوه فرد له مال یا د ټولنې له شتمنۍ څخه اخلي؛ بغیر د کوم تولید او کار نه.
ب: سود د ټولنې یوه طبقه سستۍ او بېکارۍ ته هڅوي؛ ځکه هغوی ته دا امکان برابوي چې پرته له هڅې او زحمت څخه خپله شتمني زیاته کړي.
ج: سود په ټولنه کې انفلاسیون (قیمتونه لوړوالي) سبب ګرځي.
د: کله چې پور اخیستونکي د قرض د ادا کولو توان له لاسه ورکړي، نو حرام سود د څو برابره کېدو له امله یې اوږې نورې هم درنیږي او سخت مالي فشار پرې راځي.[۲۵]

**د څېړنې موندنې**

دغه څېړنه د سود او د هغه له علت او زیانونو په پېژندلو کې له ځانګړي اهمیت څخه برخمنه ده، ځکه چې سود یوه داسې ناوړه پدیده ده؛ چې په هغه سره الله تعالی او رسول الله ﷺ ناراضه کیږي، او ټولنه د بې عدالتی ، ظلم، ناحقه مال اخیستلو او تنبلۍ ته لار هواروي، همدا راز د هر ډول سود لکه د زیاتوالي سود( ربا الفضل ) او د پور سود ( ربا النسیئة)  حرمت په قطعي نصوصو ثابت دی، او سود هغه زیاتوالي ته وایي چې په مالي مبادله کې له عوض پرته د متعاقدینو د یو تن لپاره شرط وګرځول شي.  او په دې څېړنه کې د سود علت پېژندنه اساسي محور دی، ځکه چې یو کس  د سود په پیژندنه او زیانونو باندې هغه وخت ښه پوهېدلی شي، چې کله د سود اصلي علت و پېژني، د سود د علت په اړه د فقهاؤ تر منځ اختلاف شتون لري؛ نو د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد باندې د سود علت قدر او جنس ( اندازه او جنس) دی، هر کله چې په بیع کې دا ډول علت پیدا شوو نو سود رامنځته کیږي، چې په نتیجه کې به  انسانان او ټولنه د بیلا بیلو زیانونو سره مخامخ شي لکه انسانان په روحاني او اخلاقي برخه کې په  بخل، حرص، د زړه تنکوالي، د زړه سختوالي، د مال او دنیا په بندګی (عبادت) باندې مبتلا کیږي او

[۲۵] الطریفي، د عبد الله بن علد الحسن، الاقتصاد الاسلامی اسس و مبادی و اهداف، ریاض مؤسسة الجریسی للتوزیع و الاعلان، ص۸۷، ۸۸.

په ټولنه کې د تعاون او مرستې روحیه له منځه ځي، چې د دښمنی ، حسد او بې اتفاقی سبب کیږي، خو تر ټولو بدترین یې دادی چې په اقتصادي برخه کې انفلاسیون(د قیمتونو لوړوالی)، او د یوې طبقې خلکو د سستی، تنبلی او بیکاری سبب کیږي.

**اخځلیکونه**


القران الکریم

مدني، حبیب الرحمن.(۱۴۳۷ هـ ق). فتح الهدایه پښتو شرح هدایه، کندهار: صداقت کتابخانه.

زحيلي، وَهْبَة.(ب. ت). الفقهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ, دار الفكر - سوريَّة – دمشق,

سجستانی، ابی داود سلیمان بن الاشعث ،(۱۴۲۰ هـ ق) ج۲ ، ص ۴۷۳ باب في آكل الربوا و موكله ، القاهرة : دارالحدیث

هيئة كبار علماء الاسلام. (۱۴۳۳ هـ). الموسوعة الفقهية، پشاور ، انور القران کتب خانه،

السیوطي، جلال الدین.( ١٤٣٩).جامع الأحاديث، مکتبة الشامله،

القزويني، محمد بن يزيد أبو عبدالله.(١٤١٠ هـ ق). سنن ابن ماجه، دار الفكر – بيروت،

القرطبي, محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري.(۱۴۰٦ هـ). الجامع لأحكام القرآن, دار الكتب المصرية – القاهرة.

ابن کثیر، الامام الحافظ ابی الفداء اسماعیل ابن کثیر.(۱۴۲۷ هـ). تفسیر ابن کثیر ،کندهار:المکتبة الحبیبة .

دیوبندی، شیخ الهند محمود الحسن دیوبندی،و شبیر احمد عثمانی.(۱۴۱۱ هـ). تفسیر کابلی دري، کابل: جدیذ مکتبة رشیدیه،

القحطانی، سعید بن علی بن وهف.(۲۰۱۵ م). الربا اضراره و اثاره فی ضوء الکتاب و السنة، السعودیة: مکتبة الرشید.

الطریفی، عبد الله بن علد الحسن.(۲۰۱۸ م). الاقتصاد الاسلامی اسس و مبادی و اهداف، ریاض مؤسسة الجریسی للتوزیع و الاعلان.